# د کتاب لنډیز

## د کتاب نوم: د جغرافیې بندیان!

## د کتاب لیکوال: ټېم مارشل

## د کتاب ژباړن: عدنان "نجیبي"

## د کتاب رالنډوونکی: فضل ولي "ولي"

## پاڼو شمېر: ۲۰

## خپروونکی: سیکارام

## نېټه: ۲۰۲۳ کال د مۍ ۵مه

**لومړۍ برخه؛ روسیه**

په شلمه پېړۍ کې روسیه د نړۍ اقتصادي، سیاسي او پوځي ځواک و چې یوازینی سیال یې د امریکا متحده ایالات وو. روسیه په نړۍ کې د خاورې په حساب ترټولو ستر هیواد دی، د امریکا د متحده ایالاتو او چین دوه برابره لوئ دی. له هند پنځه وارې لوئ دی او برتانیا خو پنځه ویشت ځلې پکې ځائیږي. خو نفوس یې ډېر کم دی. یعنې ټول ټال ۱۴۴,۵ میلیونه تنه دی چې دا د نایجیریا او پاکستان پر وړاندې بیخي محدود شمیر دی .

پر افغانستان یرغل روسانو ته د هغه خوب د ریښتیاوالي یوه هیله ښکاریده چې وایي؛ "روسي پوځ به دا وړتیا پیدا کوي چې د هند په تودو اوبو کې خپل بوټونه پرېمینځي". دا د روسي سیاستوال ولادېمیر ژېرېنوسکي خبرې دي. دا سړی تر حده اوښتی ملتپال بلل کیږي او روسانو دلته هغه څه ترلاسه کول چې هېڅ وخت یې نه وو ترلاسه کړي. دوئ د تودو اوبو داسې یو بندر غوښت چې په ژمي پکې اوبه کنګا نشي او د نړۍ پراخه سوداګریزې لارو ته ترې لاسرسی اسانه او وړیا وي .

قطبي بندرونه لکه مورمانسک په کال کې څو ځلې کنګل نیسي. د دوئ بل لوئ بندر ولادېووستوک چې په ارام سمندر کې واقع دی. په کال کې څلور میاشتې بند وي او د دې بندر چارچاپېر د جاپان سمندر واقع دی چې جاپان بشپړه واکمني پرې لري. دې چارې نت یوازې د سوداګرۍ مخه نیولې، بلکې د دې مخه

يې هم نيولې چې روسيه دې په چټکتيا د نړيوال ځواک په توګه عمل وکړي. له دې ور هاخوا د هوايي دهلېزونو او ځمکنيو لارو د اوبو له لارې ټرانسپورټ او سوداګري ډېره ارزانه ده .
د تورو اوبو بندر او سمندر ته دايمي لاسرسی هر وخت د روسيې لپاره د پوندې درد( د کمزورۍ) ټکی پاتې شوی. روسيه په جغرافيوي ګټور موقعيت کې واقع نه ده، خپلو اوبو او تر ډېره تېلو او ګازو له اقتصادي کمزورۍ ژغورلې ده. پورته ستونزو ته په کتو ويلی شو چې روسيه د جغرافيې بنديوانه ده او دا يې په سياسي، پوځي او اقتصادي لحاظ د پرمختګ لوئ خنډ دی چې له کلونو راهسې ورڅخه روسيه رنځ وړي. خو د دې ترڅنګ يې يو شمير ګټې هم ورته رسولي او هغه دا چې روسيه نيول يې يو څه سخت کړي چې بيلګه يې د ناپيلون او هلټر بريدونه ګڼلی شو .

## دويمه برخه؛ چين ۱

چين چې لويه ځمکه، ګڼې پولې او له سمندر سره ګڼې کوچنۍ لارې هم لري خو بيا يې هم د کلونو د سمندري ځواک جوړيدا ارمان نه دی پوره شوی او که وغواړي چې په سمندري ځواک بدل شي ناشونې به نه وي خو مشکله ده او دا کار ښايي ورته قيمته تمام شي .
سوداګر يې له سمندرونو تير شوي او پر اقتصادي او تجارتي برخه کې يې ځانونه رسولي خو سمندري ځواکونو يې د خپلې سيمې پرته اخوا نورې سمندري سيمې نه دي نيولي او همدا يې د پر سمندري ځواک د بدليدا په وړاندې خنډ دی.
دوئ د ارام سمندر په سمندري لارو ساتلو کې هم له ستونزو سره مخ دي. اتلانتيک او د هند سمندر خو بيا په دې هڅو نه ارزي. چين هر وخت د ځمکې ځواک پاتې شوی. ګڼې ځمکې او ګڼ خلک لري چې اوس يې د وګرو شمير نږدې 1.4 مليارده تنه کيږي .
د اوسيدنې د ځای په صفت د چين نظريه له نن نه نږدې 4000 کاله وړاندې رامنځته شوې. د چين د تمدن زېږدځای د چين شمالي سطحې دي چې چينايان ورته منځنۍ سطحې هم وايي. دا ټيټې پرتې سيمې دي چې نږدې 160 زره ميله مربع مساحت لري او د منګوليا لاندې خوا ته پرتې دي چې د منچوريا سويل ته راځي.

د دغه هیواد هان سیمه چې نږدې 90 سلنه نفوس جوړوي. همدوئ د چین سیاست او سوداګرۍ مخته وړي. پدغه سیمه کې اوسیدونکي خلک په نژادي ډول یو خلک دي او په سیاسي او جغرافیوي ډول یې هم ځانونه او خپله ځمکه ساتلې دي.
چین هم لکه د روسیې په څیر ستراتیژۍ مخته وړي مطلب دا چې د برید په څیر دفاع او رهبرۍ ته رسیدلي دي خو د دې هر څه سره، سره یو شیمر طبیعي خنډونه لري که چېرته د چین رهبرۍ د دغه خنډونو له منځه وړلو باندې بریالی شوی وای او په خپله ولکه کې یې راوستی وای، ښایي دوئ یې ساتلی وای.
د چینايي ولس او حکومتي رهبرۍ د کلونو خوارۍ او زیار چین پر ستر اقتصادي او پرمختلونکي نظامي ځواک بدل کړی. که د چین اوسنیو او عصري پولو ته وګورو نو پوهه به شو چې دا سترګ ځواک اوس پر دې ډاډمن دی چې پر جغرافیوي ډول له هر قسم برید پر امام دی او همدا وجه ده چې پرمختللې سوداګرۍ او اغېزمنې دفاع هم ډاډمن کړي .

**دویمه برخه؛ چین۲**

چین چې اوس مهال د نړۍ دویم ستر اقتصادي قوت بلل کیږي د امریکا سره د اقتصادي او پوځي ستونزو ترڅنګ یو څه د هند څخه هم ډار لري. چین ادعا لري چې د هند اروناچل پرادېش د چین اړوند دی او هند بیا وایي چې چین د اکسایچین سیمه له دوئ نیولې.
له همدې امله له پېړیو راهسې د چین او هند ترمنځ د سوداګرۍ کچه بیخي محدوده پاتې شوی او په راتلونکې کې هم د دغه حالات د بدلیدو څرک نه لیدل کیږي. په دغه جنجال کې د تبت په نوم سیمه ډیره د پام وړ ونډه لري او همدا ټکی دی چې چین دا سیمه په ډېر قوت کنټرولوي. دا د ډار ځمکنی سیاست یا جیوپولېټېک دی. که چین تبت کنټرول نه کړي، نو دا هر وخت امکان لري چې پر دغه سیمه دې هند قبضه وکړي .
خو ډیر کله هند پدې برخه کې چین ته یو رقم ډاډ ورکوي چې د یادې سیمې په اړه هند کوم اقدام نه کوي او همدا سیمه د اوبو له اړخه چین ته ډیره مهمه ده او ان د چین د اوبو د برج په نوم پیژندل کیږي. چین هغه هیواد دی چې نږدې د امریکا د متحده ایالاتو په اندازه اوبه لګوي؛ خو مخ پر زیاتیدونکي نفوس له وجې به د اوبو له کمښت سره مخ شي او دا کچه به ثابته پاتې نشي.

وخت ناوخت د تبت سیمې په اړه د امریکا د ولسمشرانو او سیاسیون خبرې د چین د خفگان سبب گرځي او وايي چې دوئ د چین امنیت تر پښو لاندې کوي. دا په داسې حال کې ده چې د چین امنیت تر پښو لاندې کيږي نه بلکې د ډیموگرافیک او جغرافیوي سیاست د تبت د ازادۍ مخه ډب کړې ده.
بله مهمه او وروستۍ نقطه چې د چین د دفاع د کمزورۍ نقطه بلل کيږي هغه د پاکستان، تاجکستان او قرغزستان سره گډه پوله ده. دا پوله د قزاقستان سره د پولې تر ختمیدو مخکې منگولیا سره لگي چې د وربښمو پخوانۍ لاره ده او د منځنۍ پاچاهۍ او نړۍ ترمنځ د ځمکني سوداگریز پول په نوم شهرت لري.
اما چین پر دې ډاډه دی چې قزاقستان پر چین د برید شیمه نه لري او روسان بیا ځو چاټۍ واټن ورسره لري.
خو د سویل خواته چې د چین نیمه خودمختار ولایت شینجیانگ پروت دی ډېرى اوسیدونکي یې ایغور مسلمان دي او د افغانستان او پاکستان په شمول له اتو هیوادونو سره گډه پوله لري چین ته یو لوئ سرخوږي باندې بدلیدی شي او دا به د چین یووالی او اقتصادي پرمختگ وننگوي خو چین به دا خاوره هم د تبت په څیر هیڅ وخت له لاسه ورنکړي او د ازادۍ لپاره هر ډول کړکۍ به بندې وساتي .
یوه بله مهمه نقطه چې چین ډیره ټینگه نیولې ده هغه دا ده چې چینایام ټولنې ته د لوېدیځ په نسبت په ډیر بد نظر گوري. لویدیځ له شخصي حقونو سره تړلی فکر لري او چینایان بیا پر فرد باندې ډله ییزو حقونو ته او کار ته لومړیتوب ورکوي. هغه څه چې لوېدیځوال ورته فردي حقونه وايي، بیجینگ ورته د یو گوانښ په سترگه گوري او د اکثریت په مقابل کې یې خطر بولي او د چېن ډېرو خلکو دا نظریه منلی او عملي کړې ده.

## دریمه برخه؛ امریکا

د جغرافیې بندیان کتاب دریمه برخه د امریکا پر پروني، نني او راتلونکي سبا را څرخي. لیکوال د امریکا په اړه لیکي چې امریکا په یوه ښه گاونډ کې واقع ده. ننداري له کچې پورته دي او د اوبو ځانگړني د گټې ترځنگ ورته گوانښونکې هم دي خو امریکایانو د گوانښوونکو اوبو څخه ځانته فرصت جوړ کړی او نن نړۍ اداره کوي .

ما د پاره جالبه دا ده چې د امریکا ډېری برخه په نغدو پیسو اخیستل شوې ځمکه ده چې پخوانیو ولسمشرانو له هسپانیې او روسیه څخه پکې ځینې برخې اخیستې دي. مثلاً لوېزیانا هغه ایالات دی چې امریکا د ۱۵ میلیون ډالرو په بدل کې وپیرله. دغه ایالات د امریکا لویوالی دوه برابره کړ .

د دغې برخې له لوستو وروسته پوهیږئ چې د امریکا ستر والی او یووالی په څه کې دی؟ که وګورو نو امریکا پنځوس دي که پنځه پنځوس ایالاته لري خو دوئ د داسې یوه هیواد تر بیرغ لاندې را ټول شوي خو اته ویشت اروپایي هیوادونه لکه زمونږ وطن په یو خوله نشي را ټولیدای او همدا یووالی د امریکا د قوت مهمه نقطه ګنلی شو .

د امریکا د قوت بله نقطه د اتلاتیک سمندر او بندرونه دي چې دوئ ته یې د سوداګرۍ ترڅنګ د دفاع په برخه کې لوئ لاس ورکړی. همدا شان په ۱۸٦۷ کې امریکا له روسیه څخه د الاسکا سیمه د ۷,۲ میلون ډالرو په بدل کې وپیرله چې ډېری امریکایانو یاده سیمه اخیستل حماقت باله خو د دوئ فکرونه هغه وخت بدل شو چې یاده سیمه کې د سروزرو د کان ترڅنګ د تیلو سترې ذخیرې ومندل شوې .

همدا شان پدې برخه کې لولو چې امریکا د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې وروسته په کال ۱۹٦۲ کې د نړیوال ځواک کیدا اشاره ورکړه هغه وخت یې د خپلې جغرافیې خواوشا هیوادونه داسې کنټرول کړل چې تراوسه ترې سر نشي پورته کولی .

لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه چې امریکا اداره کولې هرڅه بدل کړل او امریکا خپل لوئ ځواک د نړۍ چاپیره واچاوه ترڅو هر څه کنټرول او د دوئ د نن او راتلونکی اقتصادي او پوځي قوت ساتنه وکړي. همدا و چې امریکا خپله لویه جغرافیه وساتله او جګړه یې نورې نړۍ ته انتقال کړه. د نړیوال ځواک کیدا سره سم یې د نړۍ سوداګریزې لارې کنټرول کیدا ته مخه کړه. دغې ستراتیژۍ خورا لوئ ځواک ورپه برخه کړ او مونږ ته ګوره چې د خپل جغرافیوي موقعیت نه په را ټوکیدلو زهرو شخوند وهو.

## څلورمه برخه؛ لوېدیځه اروپا

د جغرافیې بندیان کتاب څلورمه برخه پر لویدیځه اروپا راڅرخي. لیکوال لیکي چې" د عصري نړۍ ښه والی او بدوالی له اروپا سرچینه اخلي. د دې لوېدیځې خاورې روشنفکري او روڼ اندي زېږولې چې صنعتي انقلاب ته یې لار هواره کړې او صنعتي انقلاب بیا زمونږ د چاپېریال هر څه اغېزمن کړي دي. د دې هر څه لپاره مونږ د اروپا له موقعیت مننه کولای او ملامتولای یې هم شو."

که ټوله اروپا ته نظر وکړو نو د ۲۸ اته ویشت هیوادنو ټولګه یې ګڼلی شو خو ډېری هیوادونه یې طبیعي موانع لري او د یو بل څخه یې جلا کړي. همدا شان طبیعت د اروپا د ځینو سیمو د پراختیا مخه هم ډب ګړې.

د دې برخې له لوستو ما یو څه درکړ کړل هغه د دې هیوادونو د یو بله ډار دی چې هم د اروپایي ټولنې او هم د ناټو غړي دي. همدا شان جرمنیان له روسیې او فرانسې نه د ډار په دایره کې ژوند کوي.

د اروپایي ټولنې له منځه یوازې جرمني او فرانسه هڅه کوي چې یاده ټولنه سره یوځای او متحده وساتي. دوئ اوسمهال یو بل ته د طبیعي ملګري په صفت ګوري خو جرمني بیا د ځان سره دویم یا بي پلان هم لري او هغه د روسیې په تړاو دی. نور یې اکثریت غړي هیوادونه وړو کې شګه لري او دا یې په اوږد مهال کې د پاشل کیدا سبب ګرځیدی شي.

دلته د کتاب یو برخه کټ مټ را نقلوم؛ جرمني ژمن و چې یو ښه اروپایي هېواد پاتې شي. جرمنیان پوهېدل که ټولنه له منځه ځي، د جرمني پخوانۍ ستونزې او وېرژ بیا رابرسېره کېږي. جرمني اوسمهال په اروپا کې تر ټولو ډېر مالدار هېواد دی، ۸۲ میلیونه نفوس لري او د نړۍ څلورم ستر اقتصاد هم شمېرل کیږي. د ټولنې د ناکامېدلو به جرمني په اقتصادي ډول له ستونزو سره مخ کړی وای. د نړۍ د دریېم ستر صادروونکي اقتصاد نه غوښتل چې خپل نږدې بازارونه د انحصار (ځانپالنې) په حالت کې ووني .

د جرمني ملت لرونکی هیواد سره له دې چې د جوړېدو راهیسې یې یوازې ۱۵۰ کلونه تېریږي، اوسمهال د اروپا په غوره ځواک بدل شوی هېواد دی. په اقتصادي چارو کې بې رقيبه دی، غلې خبرې کوي؛ خو د اروپا په ښه ستره برخه او ټوله لویه وچه ورته غوږ ده. سره له دې چې نړیواله اقتصادي پالیسي لري؛ خو ځینې وختونه غلې خبرې کوي او ځان له جنګه لرې ساتي .

د دغې برخې لوسته مو د اروپایي ټولنې په راتلونکي متحد پاتې کیدا شکمنوي بلکې یو یقین درکوي که دوئ همداسې د یو بل د کور غلا ته شیبې شمارې نو لرې نه ده چې یو ځل بیا دې اروپا د یوې اوږدې جګړې میلمنه شي .

زمونږ خواته هم د ډېرو بد سترګې را برندې دي خدای دې مونږ پر خپل رحم د جګړې له اوره وساتي او پدا روان بحران دې د برلاسۍ توان او حوصله را عطاء کړي .

## پنځمه برخه؛ افریقا ۱

افریقا چې د نړۍ لویه وچه بلل کیږي. د بیلابیلو قومونو، ژبنیو توپیرونو او ځانځانۍ دومره ځپلې چې سره د هغومره طبعي شتمنو بیا هم نیستمنه بلل کیږي. دا ځای نړۍ ته یوه ستره بېلګه ده چې د مصنوعي پولو رامنځته کول، د کمزوري دولت جوړیدو ته لاره برابروي، داخلي کړکېچ رامنځته کوي او دې ته لار برابروي چې د یوه هېواد کورنۍ شتمني او منرالونه دې بهر میشتي د ځان په ګټه راوسپړي او یو یې سي.

افریقا ولې د جغرافیې بندیوانه بلل کیږي؟ افریقا ستر ساحلونه لري او دغه ساحلونه د مینې ډک دي خو همدا ساحلونه خطرناک طبیعي بندرونه هم دي. د سیندو شمار یې نشته خو افریقا ته یې هیڅ ګټه نشته ځکه چې تر ډېره دا سیندونه هیڅ سوداګرۍ ته جوړ نه دي او حتی په څو کیلو مترۍ کې یې هر سیند یو ځروبی لري. دا د ستونزو له لېست نه یوازې دوې مهمې ستونزې دي چې مونږ ته راښايي چې افریقا ولې د لوېدیځي اروپا یا شمالي امریکا په څېر سیاسي او ټکنالوژیکي پرمختګ نه دی کړی.

لیکوال د افریقا په اړه لیکي چې؛ په نړۍ کې ډېر داسې ځایونه شته چې بریالي نه دي؛ خو ځینې یې بیا دومره ناکام دي لکه افریقا او دا پداسې حال کې ده چې ویل کېږي د انسان لومړۍ بڼه هم په لومړي ځل له اوس نه ۲۰۰ زره کاله وړاندې په افریقا کې پیدا شوې ده.

افریقا د ځمکې تر ټولو پراخه لویه وچه ده، هر وخت مختلفې سیمې، اقلیمونه، کلتورونه او نور پکې شامل پاتې شوي؛ خو یو څه چې دوئ ټولو شریک لرل، هغه د دوئ انزوا ده. د افریقا د پرمختګ یو لوئ خنډ په دغه پراخه سیمه کې ګواښوونکې ناروغۍ لکه ملاریا، زېړړی او نورې دي چې ګرمۍ او یا نورو عواملو راوړي او د خلکو ژوند یې ور سخت کړی.

د دې لویې وچې ډېری سیندونو هم یادې خاورې ته کومه ګټه نه ده رسولې بلکې ستونزې یې لا ډیرې کړي. دا سیندونه د سوداګرۍ د لارې په صفت ډېر کم کارېدای شي او بله ستونزه یې دا ده چې همدې سیندونو د سوداګرۍ او بیلا بیلو سیمو او هیوادونو د یوځای کیدو مخه ډب کړې ده.

د افریقا طبیعي منابع د دغه لویې وچې د پاره په یو وخت هم رحمت دی او هم زحمت. رحمت ځکه دی چې خلک یې په طبیعي ډول ډېر شتمن دي خو زحمت ورته ځکه دی چې د طبیعي منابعو له وجې د بهرنیو ځواکونو تر استبداد لاندې نیول شوي .

له دې ور اخوا چې افریقا د طبیعي پلوه شتمنه ده، د سیندو رحمت هم پرې شوی خو د دغه سیندونو څخه د سوداګرۍ په ډیر کې ګټه نشي اخستل کېدای. خو د اوبو د برېښنا د پاره مناسبه جغرافیه لري خو افریقا کې دا چاره په یو لوئ کړکیچ اووښتې ده.

## پنځمه برخه؛ افریقا ۲

د افریقا په لویه وچه کې د بلا ډېرو ستونزو، اوږد مهاله خپل منځي جګړو او سیاسي نندارېو ترڅنګ ډېر کار شوی او د دغه لویې وچې د ډېری هیوادونو ترمنځ واټن د هوایي دهلیزونو، ځمکنیو لارو، سرکونو او ریل پاټلیو په جوړېدا را کم شوی .

خو دا ټولې کیسې پخوانیو اشغالګرو یعنې اروپا او نورو هغو نه دي کړي چې افریقا یې د خپلو ګټو په خاطر ټوټې ټوټې کړې وه بلکې د ریل کرښې او سرکونه پکې د معاصرې نړی نوي راپورته کیدونکي نړیوال ځواک یعنې چین کړي .

دا کتاب خورا نوي مالومات په ځان کې رانغاړي او دا برخه یې بیا بیخي جالبه او ماته نوې ده. په افریقا کې د چین دومره سترې پروژې ترسره کول او د هغوئ د ساتنې ترڅنګ د دغه خطې په ډېری هیوادونو د چین نظر یوازې د دې د پاره نه دی چې د دوئ له طبیعي منابعو او تیلو برخمن شي بلکې د خپلو سوداګریزو توکو د پاره د یو ښه مارکیټ او لارې په توګه ورته هم ډیر ارزښت لري.

په اوسنۍ زمانه کې چینایان هر ځای شته. دوئ ښکاره د سوداګرۍ هدف لري او اوسمهال د ټولې لویې وچې په سطحه د امریکایانو او اروپایانو غوندې ښکېل دي. د چین نږدې درې برخې تیل له افریقا نه راځي او همدا شان افریقایان هم د چین سره د راکړې ورکړې او په ټوله کې د سوداګرۍ پر خوا ولاړ دي. د دې مانا دا ده چې دواړه خواوې د یو بل پر ګټو پوهیږي او سره پالي .

خو دا ډېره د پام وړ ده چې په یاده لویه وچه کې د امریکا او اروپا د تیلو لوئ شرکتونه شکیل دی مګم چین تر دې دواړو مخکښ دی او حالات یې د ځان په ګټه په لاس کې اخیستي او په ډېره چټکۍ او هوښیارۍ دغلته میشت دی .

د چین د دولتي سرک او پل جوړونې د همکاریو شرکت د افریقا په بیلا بیلو هیوادونو کې په میلیاردونو ډالر پانګونه کړې ده. دوئ تنها د کېنیا د پلازمینې نایروبي او مومباسا د رېل ګاډي پټلۍ د ۱۴ میلیارد ډالرو پر ارزښت جوړه کړې. چې د دغه دوه برخو ترمنځ یې د لسګونه ساعتونو سفر اته ساعته ته راکم کړی. چین داسې پلان لري چې د دغې سیمې یو شمیر هیوادونه سره ونښلوي او د دوئ له کتاره بیا کېنیا د چین په مرسته غړاړې د ختیځې سمندري تختې په اقتصاذي کور بدله شي .

د افریقا په لویه وچه کې د چین انټرسټ نننی، پرونی نه دی له ډېر پخوا یې پر دغه سیمه نظر درلوده ان تر دې چې د چین موجودیت تر نایجیر پورې رسیدلی دی. همدا شان یې په انګولا کې تر اته ملیارد ډالرو پورې پانګونه کړې ده او دغه کیسه کال پر کال د پراخیدا په حال کې ده .

د چین د ریل لارو د انجینری شرکت (کرېک) په هغه رېل لارو ۲ میلیارد ډالر لګولي چې بېنګویلا نومېږي او د کانګو ډېموکراتیک جمهوریت د لوبېټو بندر له اتلانتیک ساحل سره چې اته سوه میله واټن لري، نښلوي. چېرته چېرته چې د دوئ د پانګوني خبره ده نو ویل کیږي چې هلته د یوسل پنځوس زرو نیولې تر دوه سوه زرو پورې چینایي کارګر میشت دی چې د دغه کارګرو زیاتره یې پوځي تمرین لرونکي وګړي دي چې د اړتیا پر وخت به ترې چین د چټکې چمتوکېدونکې ملیشې په ډول کار اخلي .

د چین مداخله په افریقا کې د ګڼو هیوادونو لپاره راښکونکې ده خو تراوسه کوم هیواد د دوئ د دغه پراخیدونکي نفوذ د مخنیوي هڅه نه ده کړې خو که حالات همداسې روان وي شاید په راتلونکې کې یې یو شمیر هیوادونه پر وړاندې خنډ شي .

چین په سیمه کې تیل، منرالونه او نور وسایل غواړي او همدا شان د خپلو توکو د پاره د یو پراخ بازار غوښتونکي هم دی او پدې برخه کې تر دې دمه چین ښه روان دی. دا چاره ښایي چې په راتلونکي کې بیجېنګ نور هم په ځایي سیاستونو کې ښکیل کړي او ښایي دې ته یې هم اړ کړي چې باید په ځینو سیمو او هیوادونو کې دې پوځي حضور هم ولري .

پدا وروستیو کې د افغانستان په طبیعي منابعو د چین نظر او هڅې هم د پام وړ دی. وګورو چې روان حالات کومه خوا ځي او افغانستان څومره کولی شي دغه منابع د ځان په ګټه وکاروي .

## شپږمه برخه؛ منځنی ختیځ ۱

د جغرافیې بندیان کتاب په دې برخه کې لیکوال د منځنی ختیځ پر هیوادونو غږیدلی. کله چې دا برخه لولئ نو پوهیږئ چې؛ مسلمان د مسلمان د کمزورۍ لامل دی همدا شان یو اسلامي هیواد د بل اسلامي هیواد د بدبختۍ لامل دی.

د منځني ختیځ شکل او نظریه اروپایي ریښه لري مطلب دا چې د طبیعي پولو ترڅنګ د نړۍ پر نقشه پخوانیو زبرځواکونو د خپلو ګټو په رڼا کې مصنوعي کرښې راښکلي چې د سیمې هیوادونه یې په لوئ سرخوږي اړولي. د منځني ختیځ هیوادونه د همدغسې یو سرخوږي کوربانه دي .

د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته په منځني ختیځ کې د اوسمهال په پرتله ډېرې کمې پولې موجودې وې. سترمنځنی خیتځ له ختیځ نه لویدیځ ته یانې د مدیترانې له سمندر نه د ایران تر غرونو ۱۰۰۰میله پراخ دی. له شمال نه سویل ته که له تور سمندر نه یې پیل کړو او په عمان کې د عربي سمندر تر څنډو پورې یې

په نظر کې ونیسو، نو دا ۲۰۰۰ میله اوږد واټن دی. خو دا سیمه د خدای په غم اخته ده او واکداران یې د بل په کور غم د دې لپاره غواړي چې خپل ارام وساتي.

د عثماني امپراتورۍ د ړنګیدا په دُرشل کې فرانسویانو او برېټانویانو د یادې سیمې په اړه بیلا بیل نظرونه درلودل چې د دواړو لوریو په توافق د برېټانوي ډیپلومات ډګروال مارک سایکس او فرانسوي جورجس پیکاټ ترمنځ د یوې پټې هوکړې پر بنسټ په دغه سیمه داسې یوه کرښه را ښکل شوه چې سیمه یې په دوو بیلا بیلو برخو وویشله. د کرښې شمال لوري ته سیمه یې د برېټانیې او سویل ته یې د فرانسې په کنټرول کې راوستې .

د بهرنیو عواملو ترڅنګ د دغې سیمې بله بدبختي په اوسیدونکو کې د سخت دریځۍ اوج و چې دوئ یې د خپل جغرافیې بندیان ګرځولي او تر ننه یو بل سره خوري. دریمه بدمرغي یې بیا په دغه سیمه کې د وړو وړو هیوادونو رامنځته کیدل و چې د هغو خلکو په یوه جغرافیه کې سره یوځای کول چې یو ځای کېدل یې نه غوښتل او همدا د دوئ تر منځ د نامساوات، بې عدالتۍ او بې ثباتۍ لپاره بس و او خپلو منځو کې داسې سره ووهل چې د غیرمسلمو پښو ته یې واچول .

دا هغه وختونه وو چې په یاده سیمه کې نه د سوریې په نوم هیواد و او نه د لبنان، اردن، عراق، سعودي عربستان، کوېټ، اسرایل او فلسطین په نوم. دا برخه چې لولئ فکر به مو واخلي چې دا په اسلامي هیوادونو د ناستې بلا مدارین خپل همدا د اسلام په نامه را ټوکیدلي هیوادونه دي چې د اسلام نه یې د سپر په توګه کار اخیستی .

یو ځای کې لیکوال لیکي چې؛ د اروپا د استعمار میراث عربان د ملیتي هېوادونو په ډلو وویشل او د دې ځایونو مشري یې بیا هغو خلکو ته ورکړه چې ټولو به د اسلام پر یوه ځانګړې بڼه باړر درلود. دې ډول مشرانو به بیا هڅه کوله چې خپل باور تر خپل تسلط لاندې د ټولې سیمې پر خلکو او قومونو ومني او دې ته یې نه کتل چې دا چاره چې دوئ یې ترسره کوي د تاریخ او دین له پلوه مناسبه ده او که نه ده؟

په منځني ختیځ کې عراق د دې ډول ستونزو او کړکیچونو یوه بیلګه ګڼلی او منلی شو. په دغه هیواد کې میشت د شعیه ګانو ترمنځ ګڼو مذهبونو هېڅکله دا ونه منله چې د سنیانو په مشرۍ حکومت دې د دوئ پر سپېڅلو ښارونو لکه نجف او کربلا باندې کنټرول ولري .

د جغرافیې بندیان کتاب دا برخه او پکې شوې وړاندینو د تشویش وړ دي. دغه برخه کې ځینې خبرې چې کلونه وړاندې یې وړاندوینه شوې کټ مټ د ریښتیا کیدا پر خوا روانې دي. د منځني ختیځ د هیوادونو یو

پر بل بې باوري، شکونه او بریادونه هغه څه دي چې دا سیمه یې پر یو لوئ کړکیچ او سرخوږي اخته کړې .

## شپږمه برخه؛ منځنی ختیځ ۲

د جغرافیې بندیان په شپږمه برخه کې لیکوال د عثماني امپراتورۍ پر پخوانیو پولو او د دغه امپراتورۍ وروسته د منځني ختیځ پر سیمه د لوئ سکندر او اموي خلافت سره د عراق پر پخوانۍ او اوسنۍ جغرافیه باندې غږیدلی .

همدا شان مخکې لیکي چې په دغه سیمه کې د کرداستان د رامنځته کیدا ژمنه ډیره پخوا شوې خو تراوسه عملي شوې نه ده. په ټوله کې د کرداستان لپاره سیمه مشخص شوې. دغه سیمې سره د دې چې د هیواد ډېری ځانګړتیاوې یې پوره کړي خو لا هم د یوه ازاد هیواد په توګه نه دی پیژندل شوی خو په منځني ختیځ کې روان حالات ته په کتو ویلی کیږي چې ښایي یو وخت به د کردستان نوم په نړیوالو قوانینو کې داخل شي. که کرداستات په نړیوال قانون کې د هیواد په صفت وپیژندل شي، واضح ده چې د عراق اوسنی شکل به بدلون وکړي. کیدی شي چې د عراق په نوم هیواد بیخي له منځه لاړ شي .

دلته لیکوال د هاشمیانو د پاچاهۍ مهال ته ورګرځي او لیکي چې د عثماني خلافت په مقابل کې خپله عربان راپورته شول او د بریټانویانو سره یې مرسته وکړه. د دغې برخې د لوستو پر مهال به د اسلامي هیوادونو او خاصکر عرب جغرافیې او واکمنو پر کړې بې ننګۍ لعنت درنه ویل کیږي .

د عثماني خلافت ترځنګ واک ته د سعود کورنۍ رسیدل او د سعودي وروسته پر اردان، فلسطین او د لبنان پر رامنځته کیدو غږیدلی او د دغه سیمې د خپل منځي شخړو ترځنګ یې د ګاونډیانو سره د تا او میو ښه منظر کشي کړې ده .

سوریه ته یې هم سر ورښکاره کړی، د بشارالاسد پر حکومتوالۍ او د سوریه پر جغرافیوي ستونزو او پکې پر میشتو جګړه مارو غږیدلی. مخته لیکي چې سوریه هم د لبنان په څیر وضعیت لري او په داسې یوه سیمه بدله شوې ده چې بهرني ځواکونه یکې خپل اهداف پالي. روسیه، ایران او د لبنان ح ز ب الله د سوریې د حکومتي ځواکونو ملاتړ کوي او عرب هیوادونه د اپوزېسیون پر خوا ولاړ دی؛ خو مختلف هیوادونه د اپوزېسیون د مختلفو ډلو ملاتړ کوي. د بېلګې په ډول، سعودي او قطر دواړه د نفوذ په لټه کې دي؛ خو هر هیواد د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره نیابتي جګړه پر مخ وړي .

یوه برخه کې لیکوال لیکي چې؛ که د عربانو د راتلونکي منځني ختیځ تلې ته وکتل شي، د ټولو پاملرنه د اسرایل عرب هلو ځلو ته ده. د اسرایلو، فلسطین جوړښت بیا نشي واپس کېدای؛ خو په سیمه کې که نورو ستونزو ته وکتل شي، بیا ډېری پوهان پر دې باور لري چې په سیمه کې د اسرایلو له شتون سره اوسنۍ ستونزې کوم تړاو نه لري دا ستونزې تر ډېره عرب دېکتاتورانو رامنځته کړې چې د خلکو پام د دوئ له ظلمونو واړوي او دا ستونزې همدارنګه په هغو سیمو کې هم دي چې همدې عرب په احمقو دیکتارانو پورې تړلې دي. خو د فلسطین او اسرایلو ګډه تراژیدي لا هم دوام لري او په دې کمه او کوچنۍ ځمکه بیا هم دا احتمال شته چې د نړۍ په کچه یو کړکیچ جوړ شي .

د منځني ختیځ له هیوادونو یو ایران هم دی چې د نورو عرب هیوادونو په پرتله د خپل جغرافیوي موقعیت نه خوشاله او ډېره دی. همدا شان ورسره پر پوله پراته هیوادونه پداسې موقف کې نه دی چې پر ایران دې برید وکړي خو د اسرایلو سره ستونزه یې بیلا بیل اړخونه لري. مګم د خورمز تنګی هغه وسله ده چې ایران یې پر یو اغیزناک هیواد بدل کړی.همدا رنګه د ایران پر اټومي صنعت باندې سر بیره په سیمه کې د اسرایلو او عرب هیوادونو پر اندیښنو غړیدلی چې د ایران د اټومي وسلو جوړولو څخه یې لري .

لیکوال ترکیه ته هم سر ورښکاره کړی، که څه ترکیه هڅه کوي چې د اروپایي ټولنې غړیتوب ترلاسه کړي خو تراوسه بریالۍ شوې نه ده او په اوسني وضعیت کې او د اردوغان په مشرۍ شاید ترکیه بیا ځلي هڅه وکړي چې دغه چاره ترسره کړي مګم دا امکانات ډېر کم دی ځکه چې په دغه پروسه کې د ترکیې مخالفین خورا ډېر دی. خو د نورو عربي هیوادونو او په ټوله کې د منځني ختیځ د هیوادونو څخه یې خورا غښتلی هیواد معرفي کړی .لیکوال یو ځای کې لیکي چې عربي نړۍ تعصب محاصره کړې خو بلخوا بیا امریکا په دغه سیمه کې خورا ډېر انټرسټ لري په سیاسي او پوځي دواړو برخو کې یې پانګونه کړې او لا یې دغې برخې ته د پراختیا زړه دی او دا هر څه انرژۍ ته د اسانه او ارزنه لاس رسي په موخه کوي. د امریکا ترڅنګ چینایان هم په سعودي عربستان، عراق او ایران کې ستر لوبغاړي دي. دا کیسه په نړیواله کچه ده. پ سیمه کې د خلکو د افکارو، غوښتنو، تمو، اړتیاوو او له ژونذ سره ښایي لوبه ترسره شي .

سایکس پیکاټ هوکړه ماتېږي؛ خو ماتې شوې ټوټې یې ببرته سره یوځای کیږي. ښایي بڼه یې بدله وي او ښایي دا ځل چارې اوږدې او خونړۍ هم وي.

## اوومه برخه؛ هند او پاکستان (افغانستان)

د دې کتاب اووم څپرکی د هند او پاکستان د تاریخي پس منظر او د دواړو هیوادانو د ازادۍ او تاسیس ترڅنګ پر اوږد مهاله دښمنۍ راڅرخي چې څو وارې ترې غتې او کوچنۍ جګړې زیږیدلي دي .
لیکوال ټیم مارشل لیکلي چې؛ هند او پاکستان یوازې په یوه خبره جوړ راتلای شي او هغه دا چې له دوئ یو یې باید له منځه ولاړ شي خو دا یو څه ستونزمنه خبره ده. ځکه دوئ ۱۹۰۰ میله ګډه پوله لري او بده لا دا ده چې دواړه لورې اټومي وسلې هم لري. د پاکستان په پرتله د هند نفوس خورا ډیر او څو چنده دی .
دا دواړه هیوادونه په ډېرو کمو او د نشت په حساب راکړه ورکړه لري. یو اړخ یې یې پاکستان ځان د هند سرسخته مخالف ګڼي او بل اړخ یې بیا دغه برخه ایګنور کوي او ځان په سیمه کې د ځلیدونکي ځواک، پرمختللي اقتصاد او د منځنۍ کچې ژوند لرونکې ټولنې په ډول معرفي کوي .
دوئ په خپلو کې د څلورو لویو جګړو ترڅنګ ډیر زیات کوچني کړکیچونه کړي او لا هم دا لړۍ روانه ده. دلته چې خبره د جغرافیې او د همدې برخې پر سیاسي او اقتصادي ګټو راڅرخي نو د جغرافیې د ویش له مخې د راپورته شوي جنجال په نظر کې نیول کیږي او لیکوال زیاتوي چې اوسنی پاکستان او هند هغه مهال وزیږېدل چې په سیمه کې اور بل و او په سیمه کې د اور بلېدو راتلونکی پړاو ممکن دوئ بېرته کړه کړي.
دا دواړه هیوادونه د جغرافیوي موقعیت له مخې په خورا مهمه ارزښتناکه جغرافیه کې واقع دی چې یو طبیعي چوکاټ یې جوړ کړی خو دواړه د جغرافیوي ستونزو ترڅنګ د اوبو په سر خورا لوئ جنجال لري چې کله ناکله د کړپ او کړوپ لامل ګرځي. هر یو د دوئ غواړي چې د اوبو پر دغه طبیعي سرچینو واک ترلاسه کړي خو تراوسه پدې برخه کې هند مخکښ دی او دغه سرچینې یې د خپلې سینې لاندې کړي .
د دغه دواړو هیوادونو اوسنی جوړښت د بریټانیې د استعمار د پاې ته رسیدو وروسته د ډېرو جنجالونو او کشالو وروسته منځته راغلی خو که وګورو لا پرې هم د بریټانوي استعمار اثرات لیدل کیږي. هند او پاکستان دواړه پر کور دننه د ډېرې ستونزو سره لاس او ګریوان دی. لکه دواړه لا هم پر خپله شته جغرافیې بشپړ واک نه لري او وخت ناوخت پکې د حکومت ضد تحرکات راپورته کیږي او دا د ولسونو ترمنځ د ژبنیو توپیرونو، غرونو او دښتو ترڅنګ د اسلامېزم او هندویزم مفکورې له وجې ناقرار دي .
د بریټانیې د واک ختمیدا سره سم په سیمه کې ګډوډي رامنځته شوه او ویل کیږي چې دغه ګډوډۍ تراوسه د دواړو هیوادونو ترمنځ د نفرت نقطه ده. د دې ټولو ستونزو ترڅنګ دوئ په خپلو کې د جغرافیې پر سر مشکل لري. هند د پاکستان په نسبت پر جغرافیوي، اقتصادي او نظامي برخه کې خورا ځواکمن

دی او همدا وجه ده چې د پاکستان پر نسبت د پاکستان په شمول د نورو ګاونډیانو ډیر ډار نه محسوسوي او حتاً د ډار په سترګه ورته نه ګوري.
د هند ترڅنګ د پاکستان او افغانستان جغرافیوي جوړښت او په همدې برخې پخوانۍ او اوسني ستونزې هغه څه دي چې د دواړو هیوادونو د اقتصادي پرمختګ او سیاسي جوړجاړي مخه یې ډب کړې ده. لکه د کتاب په اوله برخه کې چې یادونه وشوه هغوئ چې هند په واک کې ولري په نړۍ واکمني کولی شي.
دا هغه څه دي چې هند ته په سیاسي او اقتصادي برخه کې د ازرښت توپ په لاس ورکوي مګم د افغانستان د پاره بیا بدبختي دا ده چې د دغه هیواد سره نه د وچې او نه د اوبو د لارې د وصل دی.
همدا شان د کتاب دا برخه د هند او چین د جغرافیې پر ګټې او زیان راڅرخي. د دغه دوه هیوادونو ترمنځ د نړۍ تر ټولو لوئ غر چې د همالیا د غرونو په لړۍ یادیږي ولاړ دی چې پر یو بل یې د برید څخه راګرځوي او که چېرته پر یو بل برید هم کوي نو د بریا چانس به یې په روسیه کې لکه د جرمني د پوځ په شان کم وي. همدې غرونو د دواړو ترمنځ توې اقتصادي او سیاسي اړیکې سړې کړي دي .
د دې ستونزو ترڅنګ دواړه لورې په خپلو منځو کې د ځینو سیمو په سر د لسیزو راهسې جنجال سره لري. مثلا د تبت نومې سیمې باندې د هند دعوا او همدا شان د هند په شمال کې د ختیځ ایالت اروناچال پردېش پر سر چین دعوا لري او سوېلي تبت یې بولي .

## اتمه برخه؛ کوریا او جاپان

د جغرافیې بندیان د کتاب اتم څپرکی د شمالي او سویلي کوریا او چاپان پر اوسنۍ او پخوانۍ جغرافیه، سیاست، راکړه ورکړه او هغه ستونزو راڅرخي چې کلونه کیږي دوئ ترې ځوریږي او د یو بل پر ضد یې درولي دي. ټیم مارشل لیکي چې په نړۍ کې ډیرې داسې ستونزې روانې دي چې بیړنۍ پاملرنې ته اړتیا لري .
ټوله نړۍ پر یوه نامه دغه دوه بیلا بیلو هیوادونو او د دوئ ترمنځ ستونزې ته د خپګان په سترګه ګوري. ټول ګاونډیان یې پدې پوهیږي چې دوئ د الوځولو وړتیا لري، له نورو هیوادونو سره د ښکلېلیدو امکان شته او دا چاره د دوئ اقتصادونه ړنګولای شي .
که چین د شمالي کوریا پر خوا ولاړ دی نو بلخوا بیا امریکا د سویلي کوریا پر سر لاس ایښی او د ملګریه زه درسره یم ډاډ ورکوي. چین نه غواړي چې دواړه شمالي او سویلي کوریا دې سره متحده او یوه شي او د

امریکا اډې دې هم پکې وي. خو امریکا کله هم د سویلي امریکا پر سر جګړې ته نه کیښوزي خو د دغه هیواد د لاسه ورکول هم نه غواړي .

همدا شان چاپان هم د دوئ سره د ټاپوګانو پر سر جنجال لري او د اړتیا پر وخت ځان ښکېلولای شي. شمالي کوریا پر اقتصادي لحاظ ښه نه ده او وجه یې دا ده چې د مُفسدو چارواکو په واک کې ده خو همهاله د چین ملاتړ له ځان سره لري. بلخوا په سویلي کوریا کې۳۰ زره امریکایي پوځیان میشت دي او پدې هڅه کې دي چې حالات کنټرول کې وساتي .

په دغه سیمه کې ټول ښکلیل هیوادونه او لوبغاړي پدې پوهیږي چې که چېرته په ناسم وخت کې ځواک وکاروي حالات نور هم خرابیدی شي او دا هیڅ لوری نه غواړي. لیکوال لیکي چې دا به مناسبه نه وي چې د دغه داړو هیوادونو له جګړې دې ډار ونشي. که چېرته د جګړې انتخاب وشي نو دا جګړه به لوئ بشري ناورین، کورنۍ جګړه، پر جاپان د مزایلو لګېدل او په بل اړخ کې به چین او امریکا سره مخ او جګړه به زور واخلي. دا په داسې حال کې ده چې د کوریا ټاپو یو لوری یې آټومي وسلې هم لري. که چېرته د جګړې په مهال کوریا ماتیږي نو دوئ به سیمه له ځان والوځوي.

شمالي کوریا او د دوئ د بهرنۍ پالیسۍ اړخ لا هم پدې باور دی چې د چین پرته دې پر بل چا باور نه کیږي خو پر چین پوره باور هم مناسب نه ګڼي او تر ډېره شکمن هم دی چې پر خوا یې لوبه چپه نه کړي. خو سره د دې هم دوئ یواځې له چین سره راکړه ورکړه لري .

ټیم مارشل د همدې څپرکي په یوه برخه کې لیکي چې شمالي کوریا د نړۍ پر لمن او وجدان یو تور داغ دی؛ خو یوازې یو محدود شمیر کسان پوهیږي چې په شمالي کوریا کې څه تېریږي .

د جغرافیوي موقعیت له پلوه کوریا د دوه سترو هېوادونو چین او چاپان ترمنځ واقع ده. د نړۍ پر دغه برخه باندې بیلابیلو جګړه مارو یرغل وروړی او بیرته ترې وتلي خو د دې دواړو هیوادونو جغرافیه په داسې ځای کې قرار لري چې طبیعې موانع لري او همدا وجه ده چې ډیر کله تر یرغل وروسته ترې یرغلګر وتلي دي. خو په حقیقت کې د دې ټاپو جغرافیه دومره پیچلې نه ده که وګورو نو د دې دواړو هیوادونو ویش په ډیره مصنوعي توګه شوی دی .

دواړه کوریاګانې لا هم په تخنیکي ډول په جګړه کې دي او دې چارې دواړو خواوو ته اندیښنې پیدا کړي او داسې احساس کوي چې لوئ بحران یوازې یو یو څو حرکتونه واټن لري .

چاپان، امریکا او سویلي کوریا درې واړه د شمالي کوریا د اټومي وسلو په اړه اندیښنې لري او دوئ پوهیږي چې مخالف اړخ یې د کارونې ځواک او وړتیا په ځان کې لري. خو په ځانګړې توګه سویلي کوریا بیا نورې

ډیرې اندیښتې لری او وینې یې. شمالي کوریا تنها خپله اټومي ټکنالوژي نه ساتي بلکې نورې جنګي او تباکوونکې سرګلولي هم جوړولی شي او د دې وړتیاوو سره سره دوئ د برید پر مهال لومړی وار هم کوي.
دا خبره یې په ۱۹۵۰ کې د جګړې پر مهال ثابته کړې هم ده.
د شمالي او سویلي کوریا ترمنځ خپل منځي شخړې او ګوتڅنډنې پر خپل ځای خو دوئ د چاپان سره د جغرافیې ستونزې هم لري. له هر لورې نه یوه تیروتنه کولی شي چې سیمه جنګ ته یوسي او همدا رنګه د ټاپو د خلکو لپاره ویجادوونکې پایلې لرلی شي او دا د امریکا پر اقتصاد هم ستر اغیز کولی شي. ځکه یو وخت هغه موضوع چې امریکا یې د سرې جګړې له امله دفاع کوله اوس د امریکا او ګڼو نورو هېوادونو د اقتصاد لپاره په یوه ستراتیژیک اهمیت بدله شوې ده .
چین هم د خپلو ګټو په خاطر په سیمه کې لاسوهنه کوي او د شپې تر ناوخته د جاپان مشران ویښ ساتي او همدا وجه ده چې جاپان یې امریکا ته نږې کړی. په همدې وجه خو په جاپان او سویلي کوریا کې امریکا پوځې اډې لري چې سلګونه زره پوځیان پکې میشت دي. دوئ به د خپلو دغه دوه ملګرو د ساتنې ترڅنګ د چین په سمندورونو او ارام سمندر کې د لارو ساتنه هم کوي. کله چې دا کتاب لولو نو د هیوادونو پر جغرافیوي پولو او د هغوئ پر اززښت او ترې د را ولاړېدونکو ستونزو خبروي.

## نهمه برخه؛ لاتیني امریکا

د لاتیني امریکا په ځانګړي ډول سوېلي سیمو یې ثابته کړې چې بشر کولای شي د پخوانۍ نړۍ پوهه او ټکنالوژي عصري نړۍ ته راوړي؛ خو که جغرافیه د چا په مقابل کې ولاړه وي او په ځانګړي ډول هغه وخت چې سم سیاست یې هم نه وي زده؛ نو بیا یې د بریا کچه کمه وي .
دا کتاب چې لولئ نو د کتاب تر پایه پدې مطمین کیږئ چې د جغرافیې له پلوه یوازینۍ جغرافیه د امریکا د متحده ایالاتو ده چې له دوئ سره یې په سیاسي، اقتصادي او نظامي برخه کې خورا ډیره مرسته کړې او د یو ستر ځواک په توګه یې را پورته کړی .
کله چې د لاتیني امریکا هیوادونو او د دوئ جغرافیې ته را ګرځو او پدې برخې کې دوئ ته د پیښو او یا شته ستونزو په اړه لولو نو پدې باوري کیږو چې دوئ یو هم په دې روانه پیړۍ کې شمالي امریکا یعنې متحده ایالات نشي ننګولی .

دغه سیمه هم د اروپایانو د پلانونو او شیطاني دامونو له وجې په ډېر بد وضعیت کې قرار لري چې د بشپړ ودې او پرمختګ نه یې را ګرځولي دي. استعمارچیانو دې ته پاملرنه کوله چې څنګه باید د هرې سیمې شتمنۍ ترلاسه کړي.

مثلاً د دغه هیوادونو له کتاره مکسیکو ده چې د سیمه ییز ځواک په ډول را برسېره کیدونکې ده؛ خو په شمال کې د دوئ بېکاره دښتې، په ختیځ کې غرونه او په لودیځ او سوېل کې ځنګلونت هغه څه دي چې د دوئ د زیاتې اقتصادي ودې په مقابل کې هر وخت خنډ جوړولی شي .

همدا شان د برازیل حالات هم دي پر نړیواله کچه نوم لري خو په کور دننه یې سیمې له یو بله جلا او منزوي پاتې شوي. د ازادۍ د هڅو تر پیله دوه سوکاله وروسته هم د لاتیني امریکا هیوادونن تر شمالي امریکا او اروپایانو زیات شاته پاتې دي .

لاتیني امریکا چې د مکسیکو او امریکا د متحده ایالاتو پر پوله پیلیږي او ترمنځنۍ امریکا پورې د ۷۰۰۰ میله په اوږدوالي پرته ده. د لاتیني امریکا په ختیځه سیمه کې تر ټولو ډېر تسلط له برازیل سره دی .

په نولسمه ۱۹ پیړۍ کې ډېر نوي ازاد شوي هیوادونه مات شول. دوئ یا کورنۍ جګړې او یا هم د پولې پر سر جګړو مات کړل؛ خو د پېدۍ تر پاې پورې بیا د زیاتو هېوادونو پولې وټاکل شوې. په دې سیمه کې درې شتمن هیوادونه برازیل، ارجنټاین او چلي شول؛ خو وروسته بیا ناوړت او له لګښتونو ډکو د سمندري وسلو سیالۍ دوئ خراب کړل او د دوئ د پرمختګ مخه یې ونیوله. په دغه سیمه کې شته هیوادونه یو مخ د یو بل سره د پولو ستونزې لري او په ټوله مانا د خپلو جغرافیو بندیان ګڼل کیدی شي.

دوئ یعنې د لاتیني امریکا ډېری هیوادونه خپلو کې وران دي او له ډېره وخته هڅې رواني دي چې دغه ستونزو ته د ډیپلوماتیکو لارو چارو تل پاتې حل پیدا کړي خو لا نه دي بریالی شوي. مثلاً د بولیویا او چلي ترمنځ جوړ شوي زخمونه د وخت په تېریدو ونه رغیدل له همدې امله پر چلي باندې ګاز نه پلوري .

د پولې په سر بله لانجه چې دا هم په نولسمې پېړۍ پورې اړه لري، د برېټانیې د نیول شوې بیلیز او د دوئ د ګاونډې ګواتیمالا ترمنځ شته. د دوئ ترمنځ کرښې هم برېټانویانو رسم کړي چې دغه دوه هیوادونه یې پر شخړو اړولي. که لګ مخته لاړو شو نو لولو چې چلي او ارجنټاین بیا د بیګل کانال د اوبو پر لارې بحث لري. وینزوېلا د ګویانا په نیمایي خاوره دعوه لري او اېکواډور بیا پر پېرو باندې تاریخي دعوه ګیر دی. دا وروستۍ یوه ستونزه بیا د امریکا په لویه وچه کې د پولې پر سر تر ټولو ډېره جدي ستونزه ده چې په تېرو ۷۵ کلونو کې درې ځله جګړه هم پرې شوې.

همدا شان که لګ مخته لاړ شو او په لرې پراته شمال کې مکسیکو کې تم شو نو دغه هیواد د امریکا متحده ایالاتو سره ۲۰۰۰ میله اوږده پوله لري چې نږدې ټوله یې دښته ده او دغه سیمه د امریکا او مکسیکو ترمنځ د حایل بافر زون رول لوبوي. خو دې حایل سیمې د امریکا د ټکنالوژۍ له امله تر مکسیکو د امریکا متحده ایالتونو ته ډېره ګټه کړې ده .

د امریکا او مکسیکو ترمنځ جګړه هم شوې او یو شمیر سیمې چې پخوا د مکسیکو خاوره ګڼل کیده اوس د امریکا د متحده ایالاتو برخه ګرځیدلې ده .د دغه سیمې ډېرې هیوادونه د مخدره توګو پر کاروباور تورن دي او د دوئ پرمختګ یې ټکنی کړی.

یوه بله ستونزه چې ډېرې هیوادونه یې لري هغه پر چین تکیه ده او چین هم په لاتیني امریکا کې بې دریغه پانګونه کړې او شاید د وخت په تېریدا دغلته حالات بدل شي چې په نتیجه کې یې کیدی شي چین او امریکا ښکر په ښکر شي. ځکه چې په دغه سیمه کې امریکا د څواک کاروني خورا اوږد تاریه لري ویل کیږي چې د سړې جګړې تر پایه د امریکا متحده ایالاتو په لاتینه امریکا کې ۵۰ ځلې څواک کارولی دی. د کتاب د دغې برخې له لوستو سره ستاسو په ذهن کې یو تصویر کښل کیږي او دا درته روښانه کیږي چې د ډېرې هیوادونو جغرافیوي موقعیتونه د دوئ لپاره ستر خنډ ګرځیدلي. لکه همدا لاتیني امریکا در واخلئ سره د دې چې دوئ د امریکا په بلغ کې قرار لري خو بیا یې هم د پرمختګ څرخ خورا کمزوری تاویږي. دغه ټول هیوادونه ډېرو سترو هڅو او کوښښونو ته اړتیا لري چې خپل بې ګټېتوب له منځه یوسي او ځانته د پرمختګ مخه خلاصه کړي .

## لسمه برخه؛ شمالي قطب یا Arctic

## لسمه او اخیري برخه؛ شمالي قطب یا Arctic

د جغرافیې بندیان کتاب اخري برخه پر شمالي قطب راڅرخي، لیکوال لیکي چې له روسانو پرته بل هېڅوک په دې سیمه کې دومره څواکمن حضور نه لري او نه څوک دومره چمتو دي چې ستونزو ته رسیدګي وکړي. ټول ملتونه شاته پاتې دي. کله چې د امریکا خبرې ته راځو؛ دوئ هم تراوسه هېڅ داسې هڅه نه ده کړې چې دې ځای ته دې ورسیږي. مطلب دا چې د دغې سیمې د پاره امریکا هیڅ پالیسي نه لري او نه پکې د منځني ختیځ، منځنی اسیا او لاتیني امریکا هومره انټرسټ لري.

روسیه چې شمالي قطب خپل بولي د قطب په سیمه کې د کاناډا، فنلېنډ، ګرینلېنډ، ایسلېنډ، ناروې، روسیې، سوېډن او د امریکا د الاسکا ایالت برخې شاملې دي. دا د سختې یخنۍ ځای دی. یوازې د اوړي موسم

په ځینو حالاتو کې یې په ځینو سیمو کې د تودوخې درجه تر ۲٦ سانتي ګراد پورې لوړیږي؛ خو د ژمي په خورا اوده برخه کې په قطب کې د تودوخې درجه تر منفي ۴۵ درجو ښکته وي. په دغه سیمه کې داسې حالات راځي چې د یخو بادونو، قطبي توپانونو او حتی سیندونو له امله پکې ډېرې ماتېږي او په خپله توږل کیږي.

دغه سیمه چې یو پیچلی چاپیرل لري یو وخت به پکې د نړۍ ډېرى هیوادونه د پام وړ لاسته راوړنې او بایلات ولري. ځکه چې دغلته ډېرى هیوادونه د سیمو دعوې کوي؛ تراوسه دغه ادعاوو کومه ستونزه نه ده جوړه کړې. په دغه سیمه کې ډیر څه شته چې باید دعوه او بحث پرې وشي. له دې سره یوځای د انرژیو د نویو منابعو کشف او د ټکنالوژۍ وده هغه څه دي چې د شمال قطب ته یې د پالیسي لرونکو هېوادونو پام ور اړولی دی .

دغه سیمه چې په انګلیسي کې یې Arctic بولي مانا یې ایږې ته نږدې مطلب دا چې روسیه ته نږدې سیمه ده. د دغه څېرکي د لوستو پر وخت پوهیږئ چې قطب د سیمې په کچه نه بلکې د نړۍ په کچه یوه ستونزه او جنجالي موضوع ده .

څومره چې په دغه سیمه کې د تودخي او اقلیمې بدلون له مخې تغیرات صورت نیسي همدومره پکې د خواوشا هیوادونه انټرسټ پیدا کوي او دا په داسې حال کې ده چې روسیه پرې د قوي مزاحمت او واک خبرې کوي .

په ۲۰۰۸ کې د امریکا متحده ایالاتو یوې جیولوژیکي سروې اټکل کړی و چې ښایي د قطب په ساحلونو کې د طبیعي ګازو ۱۲۷۰ ټریلیونه متره مکعب طبیعي ګاز، ۴۴ میلیارده متره مکعبه مایع ګاز او ۹۰ میلیونه بیلره خامو تېلو ذخایر وي. د دغه سروې د وړاندې شویو پایلو په نظر کې نیولو سره ویلی شو چې دا ډېرى هیوادونه اړ کړي په سیمه کې د خپلو مالي او ستراتیژیکو ګټو د خوندي کولو لپاره را میدان ته شي او دعوه وکړي، استحراجي چارې پیل کړي. ښایي لوړې چاپیریالي ستونزې هم ونه توانیږي چې د دوئ مخه ونیسي. د دغه څېرکي په یوه برخه کې لیکوال ټیم مارشل لیکي چې؛ د قطب د یخ ویلې کیدو د قطبي شورا اتو غړو هېوادونو ته چلن سخت کړی دی او دا اوس د نړۍ هغه فورم یادیږي چې جغرافیوي سیاست پکې په جغرافیوي قطبي چارو بدل شوی دی. د شمالي قطب پر سمندر اوس په قانوني ډول د حاکمیت او ځمکې ۹ لانجې وجود لري. دا لانجې ټولې په قانوني بڼه ډېرې پیچلې دي او ځینې خو بیا په دې کچه دي چې ښایي د هېوادونو تر منځ شخړې را منځته کړي .

د دغه سیمې او د هغه هیوادونو په اړه چې غواړي په شمالي قطب کې یو څه ترلاسه کړي د روسیه غبرگون خورا توند دی ځکه چې د روسیې ولسمشر ولادېمیر پوتین په لومړي ځل د قطب سیمه د روسیې د نفوذ ساحه یاده کړې او دا یې په رسمي ډول خپلې بهرنۍ پالیسۍ برخه گرځولې. خو دا به وخت ثابته کړي چې په سیمه کې ښکیل هیوادونه دغه جنجالي موضوع ته څنگه رسیدگي کوي .

روسیه د دغه سیمې د کنټرول او ساتنې د پاره ځانگړی ځواک لري خو بلخوا امریکا د دغې سیمې په اړه هیڅ روښانه پالیسي نه لري. په دې سیمو کې د حاکمیت ټولې دعوې دوه اړخونه لري چې یو اړخ یې ډار او بل یې هیلې دي. هیلې دا دي چې هېوادونه غواړي د سوداگریزو او پوځي موخو لپاره ځانته لارې پېدا کړي، د سیمې طبیعي سرچینې په خپله ولکه کې واخلي او ډار دا دی چې دوئ ډارېږي که سیمه په ولکه کې ونه نیسي، ښایي بل څوک پرې منگولې ولگوي او دوئ ته ستونزې جوړې کړي. تر وروستیو وختونو پورې هلته شتمنیو توریکي بڼه لرله؛ خو د یخ ویلې کېدو تیوري بدله کړې ده او په ځینو قضیو کې اندیښنې هم شته .په هر صورت، په قطب او نورو سیمو کې د سترو خواکونو ترمنځ سیالۍ توپیر لري. دغه سیمه د خورا پیچلي چاپیریال ترڅنگ ننگونکې هم ده او دا ننگونې جغرافیې زېږولي دي .

**پای**